DAILY
اراده
د افغان نړۍ مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۷۴
شماره مسلسل ۹۴۱
پنجشنبه ۴حوت ۱۳۸۴هش
۲۴ محرم‌الحرام ۱۴۲۷ ه ق
23 February, 2006

PROPERTY OF CACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC
سال تاسیس ۱۳۷۹هش

سفر حامد کرزی به تخار و بازتاب های مختلف



سفر حامد کرزی رئیس جمهور کشور به ولایت تخار بازتاب های مختلف در بین مردم این ولایت داشت شماری از انان به تلویزیون طلوع گفتند از هفته ها قبل برای دیدار رئیس جمهور منتخب شان لحظه شماری میکردند اما با ورود اقای کرزی به دلیل تدابیر شدید امنیتی باشندگان این ولایت حتی اجازه بیرون شدن از خانه های شان را نداشتند

سفر رئیس جمهور به ولایت تخار به منظور افتتاح اعمار سرک تالقان کشم که به مساعدت ۲۵ میلیون دالری بانک جهانی صورت میگیرد انجام پذیرفت رئیس جمهور هنگام ورود به تالار سخنرانی از مسدود بودن دکانها و نبودن مردم در شهر ابراز نارضایتی نمود و از اقدامات امنیتی بیش از حد گارد امنیتی خود انتقاد کرد

ص۴

د کرزي سل فرمانونه به و څيړل شي.

د ولسي جرګې ۱۸ ګوني کميسيونونه به د روان کال د کب تر شلمې نيټې پورې دافغان ولسمشر حامد کرزي څه ناڅه سل فرمانونه چې په تيرو دريو کلونو کې صادر شوي دي ،تر څيړنې او غور لاندې ونيسي. ٤مخ

ددولت مخالفين له دولت سره يوځای شول

ددولت ۶۹ تنه مخالف اور پکې دسولې او پخلاينې له کميسيون سره يو ځای شول دغه قوماندانان دکندهار ، پکتيا ، ننګرهار او نورستان له ولايتونو څخه دی. دسولې او پخلاينې دکميسيون مشر صبغت الله مجددی پرون په يوه خبری غونډه کې وويل چې دغو کسانو ته به دافغانستان دحکومت له لورې يوه نمره ځمکه ورکړل شي هغه وويل چې په نړۍ راتلونکې کې به ددولت دمخالفينو يوه بله ډله هم له دغه بهير سره يو ځای شي

اخراج اتباع خارجی به اتهام فساد اخلاقی

۴۷ تن از اتباع خارجی به اتهام فساد اخلاقی دیروز از کشور اخراج شده اند به گفته مشاور حقوقی وزارت امور داخله در نتیجه فعالیت های کمیسیون مبارزه با فساد اخلاقی این افراد از ده منطقه شهر کابل جمع اوری شدند با انکه از کشور های متبوع این افراد نامبرده نشده است گفته میشود انان چینی هستند. اقای ثابت میگوید این افراد با استفاده از نام ایجاد رستورانت از این محلات برای انجام اعمال ضد اخلاقی استفاده میکردند اقای ثابت اظهار امید وار کرد که با اخراج این افراد زمینه فساد ریشه کن شده باشد وی گفت تا اکنون از موجودیت چنین مراکز در ولایت های دیگر گزارشی در دست نیست و در همین حال جمیل کوهستانی یکی از اعضای کمیسیون یاد شده میگوید که این افراد برای مدت زمانی تحت باز داشت قرار داشتند رئیس پولیس سرحدی میدان هوایی بین المللی کابل از دولت خواست تا نظارت کامل رفت و امد اتباع خارجی در کشور داشته باشد.

نا امنی ها افزایش می یابد'

فرمانده نیروهای ائتلاف به رهبری امریکا در افغانستان، هشدار داده است که حملات شورشیان مخالف دولت ظرف ماه های آینده در افغانستان افزایش خواهد یافت. جنرال کار ایکنبری، فرمانده نیروهای ائتلاف تحت فرمان امریکا در افغانستان که در یک مراسم نظامی در پایگاه هوایی بگرام در شمال کابل سخن می گفت. ص٤

سرمقاله

دسرکونو د خلاصولو دويم پړاو پيل شو

له کومې ورځې څخه چې په کابل ښار او نورو ولايتی ښارونو کې دبهرنيو پوځی او ملکی مرستندويه ادارو له خوا کانکريتی پناګانې په فرعی او عمومی واټونو کې رامنځته شوی دی نه يوازې دا چې د ښاريانو ستونزې يې زياتې کړی دی بلکې د خپلو ادارو په وړاندې يې د ښاريانو عکس العملونه او حساسيتونه هم را پاروی او داسې را پاريدنې چې دهغوی کړی او راتلونکی مرستې يې تر اغيز لاندې راوستی دی.

دخلکو دانتقادونو او غوښتنو له امله د ولسمشر دحکم په اساس اړوندو ادارو ددغو سرکونو په خلاصولو لاس پورې کړی دايې هم اعلان وکړ چې تر يوې اونۍ پورې اړوند ادارو ته وخت ورکړل شو که څه هم دغينو سرکونو خلاصول دښاريانو له سترګو تير شول خو د زور ورو له خوا بند سرکونه په خپل حال پاتې او دادی اوس يې دخلاصولو دويم پړاو څخه پيل شو چې انتقادونه لا په ځای پراته دی.

د حالاتو اوشرايطو په پام کې نيولو سره که يوې خوا دبهرنيو پوځی او مسلکی ادارو دامن اوامنيت ساتنه ضروری ده خو له بلې خوا دخلکو دستونزو او مشکلاتو دليرې کولو په برخه کې دارونډو ترانسپورتی ادارو مسوولیت هم له پامه نشو غورځولی.

اوس چې دسرکونو دخلاصولو دويم پړاو پيل شوی دی ويلای شو چې دبهرنيو ادارو دستونزو له امله به اړوندې اداري دهغه بل خای په څير ونه توانيږي چې بند سرکونه خلاص کړی. دداسې ستونزو د له منځه وړلو لپاره يواځينی لاره له ښاری ساحی څخه دولتی ادارو وتل اوپه يوه مناسب ځای کې دځان داوسيدو لپاره دامکاناتو برابرول تر سترګو کيدای شي

۴مخ

افغانستان اوپاکستان يو بل ترون لاس ليک کړ

د افغانستان د ترانسپورت وزارت مرستيال محمد خاتم واحد زاده او د پاکستان د لارو د وزارت مرستيال فردوس عالم پس له څو ورځو خبرو اترو وروسته د دواړو هيوادونو ترمينځ د سرويسونو د تګ راتګ ترون لاس ليک کړ. د دغه ترون له مخې به د مارچ په پنځلسمه نيټه د پاکستان د پيښور او کويټې او د افغانستان د جلال اباد او قندهار ښارونو ترمينځ د سپرليو موټر تګ راتګ پيل کړي. پاکستان تراوسه ۲۰۰ لاری ، ۱۳۷ امبولانس او د راديو د (اف، ام) د ليږد څو دستګاوې له افغانستان سره مرسته کړې ده

بر داشتن موانع از سرک های شهر

کار برداشتن موانع جاده های شهر کابل پس از حدود دو ماه تاخیر امروز مجدداً اغاز شد بسته شدن شماری از جاده های شهر کابل از سوی نهاد های دولتی وغیر دولتی باعث از دحام در شهر شده است. ص۴

جان باختن صد تن در زندان ها

از سال ۲۰۰۲ میلادی تاکنون حدود ۱۰۰ زندانی در زندان های عراق و افغانستان جان های شان را از دست دادند بر اساس اطلاعات جدید حقوق بشر از ۹۸ مورد بررسی شده ۳۴ مورد ان قتل بوده است در همین حال یک تن از نمایندگان پارلمان بریتانیا ارقام زندانیان قربانی را تائید نموده و میگوید که در صورت اثبات این گزارشها مقامات امریکایی و بریتانیایی مسوول اند ،

ص٤

پاکستان ومنله چې کرزي ورته طالب لست سپارلی

دپاکستان دکورنيو چارو وزير افتاب احمد خان شيرپاو پرون منلې چې ولسمشر کرزي په هغه سفر کې چې تيره اونۍ يې پاکستان ته درلود پدې سفر کې ،پاکستانی اداري ته دهغو طالبانو لست سپارلی څوک چې دپاکستان له خاوري افغانستان ته داناخوالو درامنځته کولو پرموخه راځي خو دالانده په ډاګه چې څه ډول لست پاکستان ته سپارل شوی پخوا دپاکستان دبهرنيو چارو وزارت يوې ويانډې دلست په اړه ناخبري ښوولې وه

له بن نه تر لندنه

۲مخ

تعمير نه دی که تخريب؟

٤مخ

يو مړ او ۱۲ تپيان

پرون غرمه د ۱:۳۰ بجو په شاو خوا کې د کندز ښار کې د زرګری سرای کې د يوې چاودنې له امله يوتن مړ او ۱۲ تنه نور تپيان شوي دي

د کندز دپوليسو د يو چارواکي پر وينا په تپي شويو کسانو کې يو ماشي سرتيری او دوې ميرمنې هم شاملې دي ٤مخ

له بن نه تر لندنه

حبیب الله غمخود

دولتي چارواکي بايد دادرک کړي اوومني چې امنيتي ناروغي کيداې شي په اقتصادي جوړونې سره تداوي شي

دتيرو څلورو کلو په شکل که داخل هم مرستی حيف او ميل شي ،او ددې کار پايله به هرومرو له افغانستان څخه دنړيوالو مخ اړونه وي ؛

تر اوسه دمطبوعاتو آزادي د زوردخاوندانو او بنسټپالودقوت او ځواک تر سيوري لاندي ده

پوهبدلې دي ،که داخل بيا افغانستان هير شي چې دداشان هيرېدو ننبی ننبانې دامريکا دمتحده ايالاتو په پوځې پاليسی کی‌ليدل کيږی ،اويا له نظره وغور ځول شی افغانستان به دافراطي بنسټپالو تروريستې سازمانو ،دکوکنارو دکښت او هيروئنو دتوليد او سوداگری‌په نړيوال مرکز بدل شې . اروپا بايد پدې پوهيدلي وي چې په افغانستان کی‌دامنيت راوستل د بياجوړونې او اقتصادي پر مختګ لپاره مرسته ،ددموکراسی دپلی کولو لپاره لازه خلاصول ، په حقيقت کی‌دنړی دامنيت ،اوپه دغو هيوادو کی‌داوسنيو مذهبي اونژادي کړکيچ دله منځه وړلو لپاره پر ځای او ګټوره پانګه اچونه ده . که څه هم تر اوسه نه دکوکنارو کښت کم شو او نه هم دافغان بزګر لپاره چې له همدې لاړې فاميل ته ډوډی پيداکوي دکښت بل کوم غښتلی بديل پيداشوی دی دابايد په ياد ولرو چې تر ۳۰۰ زيات افغان بزګر او کښت ګر له دغې لاری عايد تر لاسه کوي . دا هم دمنلو وړ نده چې په افغانستان کی دنړی ۹۰ سلو کی‌هيروئن توليديږي په هر کچه چې دنړيوالو په سترګو کی‌که دافغانستان او افغانانو اعتبار ته دکورنی جګړې دوام ،ترور او پدې ورستيو کی‌ځان مرګي بريدونو او دالقاعدې سازمان دغړو موجوديت تاوان رسولی په هغه پيمانه دکوکنارو کښت دهيروينو توليد او پتې سوداگری هم زيان رسولی دی . دادی دلندن کنفرانس دروان کال ۲۰۰۶ زکال دجنورې نه دفبروري تر دوهمې ورځې پورې ددو ورځولپاره دايره ګډه پريکړه کوی .

دتيرو څلورو کلو په شکل که داخل هم مرستی حيف او ميل شي ،او ددې کار پايله به هرومرو له افغانستان څخه دنړيوالو مخ اړونه وي افغانان به يو ځل بيا تنهاپرېږدي ، يو شميردولتي چارواکي خو بيله هغه هم له بهرنه راغلې که يې خوښه نه شوه او يا حالت خراب شو دوباره به هلته ولاړ شي له کومه ځايه چې راغلې ځکه حقيقت خو دادی چې يوه هم تر شا پلونه ندې نړولې ددوباره تګ لپاره يې په زيات مهارت دفرار لار ځانته پرانيستې پرې اينبده . البته دداسې لو يې غوندې دجوړيدو دليل يې ممکن داوې چې نړيوال دافغانستان په شودکنفرانس برخه والو دپنځوکالو لپاره دافغانستان سره پداسی حال کې چې دافغانستان دولت دپنځو کلونو لپاره د« ۲۰ » ميليارډه ډالرو غوښتنه کړې وه » لس نيم ميليارډه ډالرو ژمنه وکړه ، دکنفرانس ګډون کوونکودا هم ومنل چې « ۵۰ »په سلو کی‌وعده شوې مرسته دې دافغاني دولت لخوا ولګول شي افغان دولت به دغه پيسې دملي پرمختيايي تګلاری دپلي کولولپاره کاروي ،دامرستې به ديوه کال ،څېنې ددريو کلونواويوه برخه به يې دپنځو کلونو لپاره وي دافغانستان ددولت هغه پنځه کلن پلان چې تر اوسه خپله افغان له هغه نه خبرتيا نلری دنړيوالو دقبول وړوګرځيد ،دافغانستان او نړيوالو تر منځ دافغانستان دملي پرمختګ يو معاهده چې دکمپکټ په نامه يادېږي لاسليک شوه پدغه سند کی‌ان تر ۲۰۱۲ کال پورې دافغانستان سره دمرستو لر ليد ليدل کيږي . دابايد ځرګنده شي پدغو مرستو کی‌هغه پيسې ندې شاملې کوم چې په افغانستان کی‌دامنيت دتينګښت دتروريستانو او القاعدې دسازمان دخپلو لپاره لګول کيږي ، ځکه ديوه ناتائيد شوي خبر له مخې هره ورځ په افغانستان کې روانه جګړه يوازې امريکا ته په ۲۷ مليونه ډالره تمامېږي ويل کيږي په نړدې راتلونکی کی‌به د امريکايی سرتيرو شميره تر « ۱۲۵۰۰ » يا « ۱۲۰۰۰ » پورې راکښته شي ،او ناتو چې اوس « ۱۰۰۰۰ » سربازان لري تر « ۱۵۰۰۰ » پورې به يې شميره زياته شي . ددغه ترون دارزښت په هکله دانګلستان لومړي وزير توني بلير وويل : « له يوه ناکام دولت څخه ديوه ديموکرات هيواد په لور دافغانستان خوځښت دده دهيواد په ګټه دی » بي بي سي ۲۰۰۲،۰۲،۰۲ بناغلي کوفي عنان دملګرو ملتو دسازمان سرمنشي آزاديو مخه کيدای شي دقانون په عوض په فتوا ونيول شي ،له فساد نه دخلاصي دولتي اداری جوړښت ،اقتصادي مرستی ،دسولې ټينګښت ،دکوکنارو دکرلواو مخدره موادو دپټې سوداګری او تروريزم پر ضد دمبارزی لارو چارو لتول،دبشر دحقوقو څخه دفاع ،دملي کدرونو روزنه اونوروارپنو پخپله وينا کی‌دتړون په هکله څرګنده کړه : داتړون دنړيوالې ټولنې استازي اړباسي چې په افغانستان کې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي بناغلي کرزي له بي بي سي سره په يوه مرکه کی‌څرګنده کړه : پنځه کاله وروسته به دهر سړي کلنی عايد ۵۰۰ لورو کړه شي . پدې کنفرانس کی‌دافغانستان دتيرو کلنو دکړو وړو ارزيابي وشوه ،خو داسي نه لکه چارواکي چې يې تبليغوي ؛ هلته پر امنيتي مسايلو ،وزګارتيا مسلو په هکله بحث وشو دپورته ياد شوو موضوعګانو په څنګ کی‌دبشر دحقوقو ،او وظايفو دتأمين او په هيواد کی‌ديوه اغيزمن داسی قضايي سيستم رامنځته کول کوم چې په ټول هيواد کې حاکم ،خلکو ته دمنلو وړ او دنړيوال عدلي سيستم سره په مخالفت کښې نه وی ،دهغوی په نظر تر اوسه دافغانستان قضايي سيستم غير مؤثر دی فساد هلته هم قوي لاره پيداکړې ده . هغو په افغانستان کی‌ددوی په وينا ديوه دموکراتيک نظام غوښتونکي دي ، چې اساس يې داجتماعي عدالت او دموکراتيکو پرنسيبو پر بنسټ ولاړ وي ،دوی وايي زموږ لپاره دموکراتيکه اداره اودبشري حقوقو څخه دفاع يوله اساسي او دوامدارو کولو غوښتنوڅخه ده . داځرګنده خبر ده که دنړيوالو لخوا هر څومره زياتي مرستې په هربنه چې وي له افغانستان سره وشي تر څو چې په افغانستان کی‌سالمه ،خواخوږې او مسلکي اداره جوړه نشي ،په هر شکل او قيمت چې کيږي سوله ټينګه نشي ،دټوپکسالارو دزور کمبله پخپله دهغولخوا چې همدا اوس ورسره مرستي کوي او په دولت کی‌هم دهغوي لپاره بهله استحقاقه لوړ مقامونه لټوي ټوله نشي ، په عاميانه اصطلاح دامريکا او اروپايي هيوادو لخوا هره ډله اوګروپ پر خپل ځای کښينه نول شي ،دوسله والو ډلو دونران په ګوته نشي چې دافغانستان په وړاندې وخپلو بې شرمانه مداخلو ته دپای ټکی کښيږدي ،اوبلاخره نور په افغانستان کی‌دزبرځواکو دسيالیو او غچ اخيستنې په مرکز دبدليدو مسله ختمه نشي ، که په زرهاوو ميليارده ډالره نن دکرزي دحکومت سره دمرستي په نامه سبادبل چادحکومت سره راولېږل شي پايله به يې دافغان بيګناه ولس وژنه ،زورونه او کړېدل وي . دغه ډول مرسته کوونکې هيوادونه به له بده مرغه غير دانسانانودمړو دجسدونه بله کومه فايده تر لاسه نکړي . افغاني متل دې وايي « جنګ شيديار سرشيديار » که نړيوال په رښتيا سره غواړي افغان ولس سره مرسته وکړي ، چې داپه حقيقت کې له ځان سره مرسته ده ،ځکه په افغانستان کې دبل شوې اور لمبې تر سرحدونو وتلې اونوري هم وزي ؛ لازمه ده چې نړيوال دملګرو ملتو دسازمان له لارې پر اوسنيو چارواکو په ځانګړي توګه ولسمشر هغو ډلواو تنظيمو چې تر اوسه دافغانستان په سياسي ژوند کی‌مطرح کيږي فشارواچوي تر څو هغه يوه سالمه اداره جوړه اودهغو دندوسرته رسول چې دلندن په کنفرانس کی‌دنړيوالو سره ژمنه شوې وروسيارل شي . پر همسايه هيوادو په خاصه توګه ايران او پاکستان دملګرو ملتو دامنيت دشورا له لاري زور راشي چې په افغانستان کې خپلې لاس وهنې بندي کړي ،تر څو چې داهيوادونه خپلې مداخلې بندې نکړي ټولې مرستې او دبيا رغاونی کار له خاورو سره خاورې کيږي ؛ ټول نړيوال دهغه جملې همدا « ۲۰ » هيوادونه چې له افغانستان سره دمرستې په خاطر يې دلندن په کنفرانس کې ګډون درلود او دمرستو وعده يې وکړه پدې نښه پوهيږي چې دپاکستان حکومت او پوځي استخبارات يې شپه او ورځ په افغانستان کې د امنيت په خرابی او سياسي پوځي حالت په بې ثباتی مصروف دي ،ولې دامريکا اوانګلستان په ګډون ټول نړيوال دپاکستان دبرېدو مداخلو په مقابل کې ستر ګې پټوي او چوپ پاته کيږي ؟؟؟ هغه چې دافغانستان په حکومت پوري اړه لري که چيرې داخل بياهم دبياجوړونې کار دپخوا په ډول روان وي ،پانګه اچونه تشويق او حمايه نشي ،په توليدي او نورومؤسسو کې دزيات کار امکانات پيدانشي ،دبيکاری مخه ونه نيول شي،دخلکو اقتصادي ښه ښه نشي ،قانون پلی نشي او داداري فساد جړې ونه ايستل شي ،دولت خلکوته په رون حساب ورکولو مکلف نشي او سرغړونکی په هر مقام کی‌چې وي محاکمې ته راکش نشي ،عدلي سيستم اصلاح نشي ،دبشر دحقوقو درناوي او دمطبوعاتو واقعي آزادي تامين نشي ،او په دولت کې کار اهل کار ته ونه سپارل شي که څوک غواړي يانه پايلې به يې ډدولت څخه دخلکو بيلتون او ددولت دمخالفينو دليکو غښتلتيا او پياوړتياوي

ددې لپاره چې دولت وکولای شي ددغو بهرنيو مرستو څخه پر ځای ګټه واخلي اړينه يې بولم چې ددولتي دستګاه دپرسوب مخه ونيول شي ،يو شمير هغه وزارتونه چې اصلاً يې موجوديت اړين نه برېښي او يا کيداې شي ديوه لوی رياست په چوکاټ کې کارونه پر مخ بوزي لازمه ده په هغه راتلونکې کابينه کی‌چې پارلمان ته درايو دتر لاسه کولو لپاره وړاندې کيږي پر ځای مثبت تغيرات راشي

متصدی: سباوون

د بیا رغاونی په لور

دهیواد په کچه دپروژو په هکله معلومات

د ۲۰۰۲ م کال د اپریل له میاشتې څخه را په دې خوا، نړیوال بانک په افغانستان کې د ۱۸ پروژو لپاره د ۹۷۳ میلیونو امریکایی ډالرو ژمنه کړې وه په دغه مرسته کې ۵۳۶.۸ میلیونه ډالره وړیا مرسته، ۴۳۶.۴ میلیونه ډالره د بې کتې پور په توګه چې دکریدت په نامه یادیږي شاملیږي تر اوس مهاله ددغې مرستې له لیارې دوه پروژې بشپړې شوی دی.

همدارنګه نړیوال بانک په مجموعي ډول د ۱.۳۱ ملیارد ډالرو په ارزښت شپږ بسپنې د افغانستان لپاره دبیا ودانولو وجهې صندوق هم اداره کوی چې له جملې څخه یې ۳۸.۰۴ میلیونه امریکایی ډالره دجاپان له تولنیز پرمختیایی وجهې صندوق څخه او ۱.۵ میلیونه امریکایی ډالرو مالی مرسته نړیوال بانک له جګړې څخه وروسته د مرستې له صندوق لخوا د ښوونکو دروزنې لپاره برابره شویده. نړیوال بانک دولت ته مشوره ورکوی تر څو وکولای شي د مرستې کوونکو مالې مرسته په (رونوالی) شفافیت او حسابدهی سره اداره کړی. همدارنګه دنړیوال بانک مرستې د تحلیلی کار د برابرولو له لیارې حکومت سره په دې لاندې برخو کې مرسته کړې ده لکنه اقتصاد، عامه اداره، دښځو او نارینه وو ترمنځ مساوات، دبیوزلۍ کمول او دمخدره توکو اقتصاد، او په اوسنۍ مالی اداري باندې بیا کتنه.

نړیوال بانک په فعاله توګه دخپلې بودیجې مرستندویو عملیاتو له لیارې په مهمو ریفورمونو په ځانګړې توګه دمالی اوعامه اداري په ډګر کې مرسته کړې ده. نړیوال بانک دحکومت له لیارې دکاری ظرفیتونو په لوړوالی، دقانونی دولت په پلي کولو او د تمویل کوونکو هیوادونو دمنابعو په راوړلو کې مرسته کړې ده ترڅو دا خبره ډاډه شي چې پانګه اچونه دملی لومړیتوبونو سره هم غږه شي. تر اوس مهاله نړیوال بانک په یو شمیر سکتورونو کې دهغوی څو اړخیزو نمایندګیو سره یو ځای کار کوی کوم چې هلته دمرستو انسجام او دحکومت مالکیت غوښتونکی لري.

دښتیزو جوړښتونو دبیا ودانولو بیړنی پروژه (د ۳۳ میلیونو امریکایی ډالرو په بسپنه) دغه پروژه به په ثانوی ښارونو کې داوبو رسولو او د حفظ الصحې چارې، په کابل کې د حفظ الصحې چارې، او په یو شمیر ښارونو کې به اساسی جوړولو او د کینډل شوې په کابل کې ۷۴ دانې خاګانې او ۱۷ دانې ژوړې خاه ګانې جوړې شوې، په مزار شریف کې ۲۱۰۰۰ دانې نیالګی کیښودل شول او په کندهار کې ۳۲۰۰۰ مترمربع خای له ناپاکې څه پاک شو.

دبریښنا دانرژی زیاتوالی: د ۲۰۰۳ م کال دجنوری په میاشت کې دکابل شمال لویدیز دحرارتی بریښنا ۴۵ میګاواټه ستیشن ورغول شو. ددغه ستیشن په رغول کیدو سره د کابل دبریښنا ظرفیت په ځانګړې توګه په ژمنې کې چې بریښنا ته غوښتنه زیاتیږي دوه چنده شوه دمتحده ایالاتو دهمکاری موسسه دغه ستیشن ته د سوند مواد برابروی تر څو ستیشن خپل فعالیت ته ادامه ورکړی بر سیره پر دې دهیواد په څو ښارونو کې لکه فیض آباد، بادغیس، بامیان، سمنګان او ارزګان چې ډیره کمه بریښنا لري یوشمیر ډیزلی جنراتورونه نصب شول

دبریښنا سکتور ماستر پلان: هغه ماسترپلان چې دهغه په ترڅ کې به د افغانستان بریښنا زیاته شي د ۲۰۰۴ م کال داکتوبر په میاشت کې وسپارل شو دغه ماسترپلان به تر ۲۰۲۰ م کال پورې دپریښنا دتولید او استولو په برخه کې دپانګه اچونې بنسټ جوړ کړی.

امیدواری به کاهش قیمت گاز و نفت در افغانستان

مقامات ریاست نفت و گاز می گویند قیمت گاز و نفت به زودی 'کاهش قابل ملاحظه ای' خواهد داشت.

محمد یونس مغل، مسئول ریاست مواد نفتی و گاز وزارت تجارت گفته است که آنها با همکاری بخش خصوصی دهها هزار تن گاز و ده ها هزار تن دیگر نفت را از کشورهای همسایه خریداری کرده و بزودی با قیمت نازل به بازار عرضه خواهند کرد

این اظهارات در حالی صورت می گیرد که درچند ماه اخیر مردم از افزایش قیمت گاز و نفت در این کشور شکایت دارند.

در این اواخر در کنار دیگر مواد ضروری، قیمت مواد سوخت نیز به صورت بی سابقه ای افزایش یافته است.

در حال حاضر یک کیلو گاز در سراسر کشور حدود ۵۰ افغانی (نزدیک به یک دالر) به فروش می رسد.

آقای مغل، مسئول ریاست مواد نفتی و گاز وزارت تجارت تاکید می کند

تعمیر ښه دی که تخریب؟

عبدالطیف "هنت یار"

د هیواد د بیا ودانی چاری بیړنی هلی ځلی او سلیم حرکت غواړی که په دغه راز ټولنیزو حرکتونو کې تخریبی لاسونه موجود وی نو له شك نه پرته به د تعمیر چاری نه یوازی دا چې له ځنډ سره مخامخ کیږي انسانی ټولی هلی ځلی به د پسمانی سره هم مخامخ وی.

څه کم ځلور کاله کیږي چې مرستندویه نړۍ والو ټولنو افغانستان سره خپلی مالی او بشری مرستی پیل کړی وی. له هماغه نه تر اوسه پوری به داسی ورځ نه وی چې دکار خلك د کار د غولی نه، نه تښتول کیږی او یا د تروریستانو په منګولو کی بند نه وی پاتی!

همدغه ویره ده چې د هیواد د ودانی چاری په ټپه ولاړی دی او له دی لاری نه افغانستان ته زیات تاوانونه نه وی رسیدلی.

که چیری د تخریبی عملیاتو پر ځای د وطن دوستی احساس ته په زړونو کې ځای ورکړ شوی وای نو دوی ته به هم په دغو لالهانده ژوند کې سر خوږ نه وای پیدا شوی او د هیواد د تعمیر چاری به له یوی ورځی نه بلی ورځی ته نه وی ځنډیدلی. خو دا چې زموږ د هیواد دښمنان نه غواړی چې افغانستان دی پر خپلو پښو ودریږی نو اختلافاتو او ګډوډیو ته پکې وهی لکه څنګه چې د خبری اژانسونو د هلمند د ولایت په "سنګین" او کجکی کې دوی سره د مسلحانه جګړی په نتیجه کې پنځه پولیس ووژل شول او نولس تنه یې زخمی شول.

د کندهار په ولایت کې د چاودیدونکو موادو په چاودیدلو سره زموږ زیات وطنوال زخمیان او یا یې د ژوند دخوږ و څخه لاس ووینځلو.

نه څرګندیږی چې د هیواد په ځینو ولایتونو کې لا اوس هم د تخریبی عناصرو له خوا ورځنی چاری پر ټپه ولاړی دی او یایی د خلکو ورځنی ژوند له ستونزو مخامخ کړی دی.

د مثال په ډول دهلمند د ولایت د موسی کلا په ولسوالی کې د نوموړی ولسوالی د ولسوال او یو پولیس د تخریبی عناصرو له خوا ووژل شول.

ددی له امله چې په دغه ولایت کې څه نا څه ښی ارامی منځ ته راغلی وی د کورنیو چارو د وزارت له خوا یو شمیر پولیس هغه ولایت ته واستول شول چې د خلکو د ورځینو چارو په برخه کې مرسته وکړی او تخریبی لاسونه ترینه لنډ شی. ددی ناوړه چارو په نتیجه کې دهیواد تعمیری "د رغونی" چاری هم په ټپه ودریږی او د تخریبی اختلافاتو او ګډوډیو کې وینی چې غټ ثبوت یې په نیمروز کې د یوه پاکستانی تبعه نیول دی چې په مرموزه توګه له کندهار نه نیمروز ته را روان شوی و په نیمروز کې د پولیسو له خوا نیول شوی او ترتحقیق لاندی دی.

همدغه راز ډیر داسی کسان شته چې د نورو په اشاری او شاډبولو باندی هیواد ته داخلیږی او خپل عناصروقوت لا زور مومی همدغه سبب دی چې دامنیت خبره لا په زړونو کې پاتی ده او کلیو او باندو ته یې غزونی نه دی کړی. موږ باید په کاملاً اعتماد سره په دی باوری شو چې په دی ټولو تخریبی چارو کې د دښمن د غرض نه ډك لاسونه وتمبوو داځکه چې دوی خپله بقا زموږ په تخریبی عملیات سرته رسوی.

که مونږ چیری په خپلی هوښیاری سره د خپل او پردی تر منځ توپیر وکړو او د چا په غوږو خبرو باندی ونه غولیږو نو بیا به مو خپلې ټولی ناسمی په خپله سمی کړی وی او د چا په غوږو خبرو به مو دوکه نه وی خوړلی.

دا زموږ د خوش باوری نتیجه ده چې تر اوسه مو خپل او پردی نه دی پیژندلی او لاری او چاری مو ور په ګوته کړی دی.

موږ ډیری ازموینی سرته رسولی خو په یوه کې هم نه یو بریالی شوی خو دا چې د موجوده وخت هره لحظه زموږ نه حساب غواړی نو بیا خو په کار داده چې د ژوندانه غوښتنو ته په درایت او عاملیت سره ځواب ووایو او د شخصی ګټو نه ټولنیزو او وطنی ګټو ته په مخه کولو سره هری ستونزی ته د اواری د چارو په لټه کې شو او په دی توګه خپل ګران هیواد پر پښو ودروو.

سفر حامد کرزی...

شهریان تالقان از وضع امنیتی در ان ولایت راضی بودند و میگفتند تحکیم امنیت در انجا محصول همکاری انها با نیروهای امنیتی است ضمناً انها از رشوه خوری مسولین ان ولایت به شدت ناراضی بودند میگفتند هیچ مرجع مسول به شکایت انها رسیدگی نمی کند بیشترین شکایت را انها از ریاست محاکم و شهرداری ان ولایت داشتند در همین حال شماری از ولایت تخار و کندز به تلویزیون طلوع گفتند که جنگ سالاران پیشین تنها لباس عوض نمودند به این معنی که لنگی و چپن را گذاشته نکتایی و دریشی پوشیده اند و بر تمام امور ان ولایت بصورت مستقیم و غیر مستقیم تاثیر گذار هستند به گفته مردم بیشترین بازسازی را در ولایت یاد شده پروژه USAID انجام داده است در همین حال مردم ان ولایت از پروژه های برنامه همبستگی وزارت احیاء و انکشاف دهات ابراز رضایت مینمودند.

نا امنی ها در...

افزود مخالفان دولت افغانستان، با افزایش حملات خود در این کشور تلاش دارند موانعی در راه شکل گیری مردم سالاری، بازسازی و بهبود وضعیت اقتصادی ایجاد کنند. این اظهارات در حالی صورت گرفته است که سازمان پیمان آتلانتیک شمالی ناتو برای اعزام نیرو به جنوب افغانستان آماده می شود. شماری از تحلیلگران مسایل افغانستان بر این باورند که افزایش احتمالی فعالیت های شورشیان مسلح در جنوب کشور، ممکن است با تصمیم به گسترش حضور ناتو در این مناطق ارتباط داشته باشد.

ولی جنرال ایکنبری با اطمینان خاطر گفت که حضور ناتو در جنوب افغانستان، امکان بیشتری در اختیار نظامیان آمریکایی قرار خواهد داد تا آنها نیز عملیات خود علیه مخالفان مسلح را گسترش دهند. فرمانده نیروهای ائتلاف تحت فرمان آمریکا در کشور همچنین بر لزوم گسترش دامنه همکاریها میان افغانستان و پاکستان در فعالیت های ضد تروریستی تاکید کرد. او گفت: "ما تلاش های خود برای ایجاد همنوایی بیشتر میان افغانستان و پاکستان در عملیات ضد تروریستی و تبادل اطلاعات مربوط به نبرد علیه تروریسم را سرعت بیشتری خواهیم داد و به همین شکل برای بیشتر شدن اعتماد متقابل میان نیروهای پاکستانی و افغان نیز تلاش هایی انجام خواهد شد. برخی از مردم و مقامات کشور، پاکستان را محل طراحی فعالیت های تروریستی می دانند.

حامد کرزی رییس جمهور کشور در سفر اخیر به پاکستان نگرانی های کشورش در این مورد را با مقامات اسلام آباد در میان گذاشت و خواهان تلاش بیشتر پاکستان در مبارزه علیه تروریسم شد. در سال جاری بیش از ۱۵۰۰ نفر در نتیجه درگیری های مختلف میان نیروهای امنیتی و شورشیان مظنون وابسته به طالبان، کشته شده اند که نزدیک به ۷۰ تن این قربانیان، سربازان خارجی بوده اند.

دسرکونو د خلاصولو ...

هغه درندې او زیاتې ډالرې کرایی چې دځو کلونو په اوږدو کې یې مالیکنو ته ورکول کیږي او هغه نور لګښتونه چې د کورونو او امنیتی پناه ګاوو لپاره یې کوی دځو کلونو مجموعه اندازه یې د نوزو ودانیو دجوړولو امکانات برابروی او له بلې خوا به د ښاریانو ستونزې نه یوازې دا چې حل شي بلکې دبهرنیو ادارو په وړاندې به د عکس العملونو اندازه هم کمه شي چې موږ دپرون په شرایطو کې هم له ښار څخه دباندې دټولو ملکی اونظامی ادارو او ځواکونو داوسیدلو شاهد یو چې دننه په ځیر یې دخلکو په وړاندې ستونزې نه وی رامنځته کړی. او نه د خلکو انتقادونه رامنځته شوی وو.

جان باختن صد...

وزارت دفاع امریکا میگوید که چنین گزارش را تا حال دریافت نکرده است اما مقامات این وزارت میگوید که بد رفتاری با زندانیان را مورد بررسی جدی قرار خواهند داد.

یو مړ او ...

څو تنو عیني شاهدانو بینوا ته وویل چاودنه د پي ار ټي موټروته نیږدې رامینځ ته شوه چې په کې یو موټر ته زیان هم رسیدلی دی. د چاودنې اکثریت قربانیان ملکي وګړي دي. د روغتون د یو ډاکټر پر وینا د دوو تنو ټپیانو حالت ښه نه دی. پولیسو تر دم ګړی د پښې په اړوند څوک نه دي نیولي. یوامنیتي چارواکي وویل چاودنه په یو بایسکل کې رامینځ ته شوې ده. شاهدان وایي ددغه برید موخه د پي ار ټي ځواکونه وو.

برداشتن موانع...

رئیس عمومی ترافیک وزارت امور داخله میگوید که از ین پس روند برداشتن موانع بدون توقف به پیش خواهد رفت. شهر کابل پس از بمیان امدن اداره موقت بدین سوبه یکی از پراز دحام ترین شهر های کشور مبدل شده است. جاده های کم عرض موجودیت ارگان های نظامی و ملکی داخلی و خارجی در نقاط مرکزی شهر بندش کوچه های فرعی از سوی این نهاد ها به این مشکل افزوده است.

د کرزی سل فرمانوه...

د ولسي جرګې ۱۸ کمیسیونونه پر داسې مهال خپل کار پیل کوي چې ډیر غړی د کمیسیونونو د رئیسانو او غړو له تاکنو څخه ناخوښی بریښي او وایي چې دا کمیسیونونه د پوهې، مسلک او وړتیا پر بنسټ نه دي رامینځ ته شوي بلکه تر ډیره بریده پر قومي او ژبني او سیاسي تړاو رامینځ ته شول. له بل لوري ښځینه وکیلانو ته هم په کمیسیونونو کې کمه ونډه ورکړل شوې ده. د ولسي جرګې مشر قانوني وایي د فرمانونو د لغوکولواو یا تعدیل کولوواک ولسي جرګه لري. همداشان ویل کیږي چې دولت تیاری نیسي تر څو خپله کابینه د اعتماد د رایو د ترلاسه کولو له پاره ولسي جرګې ته وړاندې کړي. تر دم ګړی ولسي جرګه نه ده توانیدلي چې د اعتماد پرچارو یو خیل سلا شي. د جرګې د نړیوالوړیکو د کمیسیون مشر استاد سیاف وایي، کیدای شي دریمه لار را پیداشي چې ټول غړي پرې سلاشي.

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

اراده
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یك شماره ۳ افغانی